ژباړن: سید عبید الله نادر

۲۰۲۳/۰۶/۰۹

# د سعدی د ګلستان له حکایاتو څخه

## د حکمت خبری

یوه ډله د حکماوو څخه د کسری په دربار کې د یو مصلحت له پاره سره راغونډ شوی وو.
او خبری یې کولې بزر جمهر، چې تر ټولو عالم او فاضل کس وو د ډلی څخه لیری او چوپه خوله ناست وو .نو د وزیرانو د ډلی څخه چې د مصلحت د ورکولو د پاره ناست ول ، بزرجمهر ته یې وویل: چې ولی زمونږ په ډلې کې نه راځې او خبری نه کوی . بزرجمهر وویل : چې وزیران د طبیبانو په مثال دي طبیبان دارو نه ورکوی ، مګر مریض او نا خوش ته. زه چې وینم ستاسو رایه د صواب په لاره ده نو ماته د حکمت نه لیری ښکاري چې پر دي موضوع باندی خبرې وکړم

*****

د هنر قدر
یو جهاندیده او د تجربی خاوند یو حکیم ،خپلو زامنو ته داسي پند او نصیحت ورکولو ، چي د پلار د زړه سرو هنر زده کړئ ، ځکه په ملک او دولت د دنیا هیڅ اعتبار نشته ، او نه دی په کار ، زَر او جواهر په سفر کي په خطر کي دي ،یا یي درنه غله وړي ،او یا درڅخه په مدار مدار مصرفیږي ،لیکن هنر روانه او زیږنده چینه ده ، او تلپاتي دولت دی ،که هنر مند د دولت څخه و غورزیږي ،د هغي غم نشته ،ځکه هنر په خپل نفس لوی دولت دی . هنرمند چي هر ځای ته لاړ شي ، قدرويني او پاس کيني ،بی هنره مړی ټولوي او سختي ويني ،

*****

بیګناه زندانی
حکایت دی چه وايي یو پادشاه یو درویش او فقیر،بی ګناه زنداني کړخو د شپي یي خوب ولید .چي غریب زنداني بی ګناه دی .پادشاه دستور ورکړ او زندانی یی خوشي کړ او هغه یی ځان ته رووغوشت او ډیر یی نوازش کړ . او هغه ته وویل چي زما نه یو حاجت وغواړه ، درویش وویل : هغه خدای چي په نیمه شپه کي یی ته د خوبه راويښ کړي ،ترڅو ما آزاد کړي ،او تا ته یی د عبرت تکان درکړ ،دا ډیره د نامردی خبره ده ، چي زه د هغه درګاه پریږدم ، او د بل چا له درباره څخه څه وغواړم.

*****

د لیري لید خاوند
وايي چي ډير یو غشتلی ځلمی ځوان په یو مست او ټکره آس سپور وو ، او بیدیا ته یی مخه کړه داسي یو ځای ته په خپل سفر ورسیده ، چي د بیدیا څخه په وتو کي وو نو د لیري څخه یوه ونه ورته ښکاره شوه ،چي د وني لاندي راورسيد ګوري چي یو شل د وني لاندي ناست دی ، شل ډیر په عذر او زاري خواست تري وکړو چي ورسره مرسته وکړي چي معذور دی ،ځوان د خپل د آس څخه را کوز شو .او دا چي ډیر غښتلی وو ، شل یی په دواړه لاسو جګ کړ او د آس پاسه یی کښيناوه ،شل د وخت څخه په استفادی سره آس ته ممیز وکړ او لیري یی خپلي خپي وغزولي ،چي یعني ځان یی په تګی وهلی وو ،ځوان پري وررغ کره چي یوه خبره زما نه واوروره ،او هغه دا ده چي دا قیصه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکي په ځیر و لولئ

په خپل ټول عمر کې چاته ونه کړي ،او دا زما نصیحت دی تاته ،دا ځکه چې ځوان په خپل بیداره روح او دماغ ، او طبیعی استعداد سره چې خدای تعالی ورکړی وو ، د دي قیصي په منفي اغیز په انسانانو باندی پوهیده ،ځکه که دی ، دا قیصه خلکو ته وکړي ،نو د سخاوت او مردانګی تخم به ،په دوی کې محو او خلک به دي ته راوبولي چې د مردانګی ، سخاوت ، او فدا کاری
تخم به د ټول عالم بشریت څخه ورک کړي .او خلک به جرأت و نه کړي چې چا سره مرسته وکړي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ